AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۱۲/۱۹

# پندونه او نصیحتونه

په هر حال له خپله ځانه خبرېدل ښه دي
معنویاتو ته له عجزه، رسېدل ښه دي
تغافل هم په دي چمن کې په کار نه دی
د ګلشن په رموزاتو پوهېدل ښه دي
یو شیبه چي مودرمن، زړونه پرې آرام شي
په خپل حال باندی چوپتیا کې ژړېدل ښه دي
په علمی پلټون تحقیق او په څېړنو
د خلقت په پټ اسرارو پوهېدل ښه دي
چي جلوې د معرفت نه ویني،په پانو
له لیدو د داسي سترګو، ړندېدل ښه دي
چي د علم په حصول مو تنده شي ماته
د فطرت په رموزاتو، ګروېږل ښه دي
تر څو به تغافل کړو ، د دنیا په اشارو
له دیوان د معرفته ، څه لوستل ښه دي
چي نشه د انتباه یي ، په لید کي نه وي
له دا هسی لید کتو نه ، نه لیدل ښه دي
د د نیا واړه پندونه ، نصیحتونه
له بد لون د زماني نه ، اخیستل ښه دي
چي د حق خبری ، پرې وا نه وری هیڅ کله
له دا هسي اوریدو نه ،کڼېدل ښه دي
وسیله چي د معیشت، دین او مذهب کړي
هم د داسي انسانانو، خو رټل ښه دي
د ګُل جهان چي د خالق پرې، رضا نه وي
هم د داسي نظامونو، پرزېدل ښه دي
جهالت په خره سپاره به، تر څو مونږه یو
د لويي او تکبر نه، کوزېدل ښه دي
چي په نشه کي د قدرت ځانونه ورک کړي
له دا هسی مقامو ځيني، لویدل ښه دي
چي رسوا د عام و خاص په ټول جهان نه شو
هم د هسی ځان ځانی څخه وتل ښه دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

چې بخــــشايش تندی مو خلاص وي و هر چاته
لکه پرخــه پر ګـــلونو غـــوړيدل بــه دي
چې يو شـان مونږ کې ، احساس د همدرۍ شي
د باران په خــير يکسانه وريدل بـــــه دي
جوړ به هـيڅ نه شـي ، دا زمونږ له خاموشيه
د دا هـسي کښـيناستو نه پاڅـيدل بـــــه دي
که نا هـيلي مـــو ،غُټۍ شــي د آرمــــانونو
د داهسی غـــوړيـــدو نه ، رژيــدل بـه دي
د سيد حـــسن غــوندی دردمـنو په خـــير)۱(
د خپل وطن په درد و غم کې کـــړيدل بـه دي
ژړا شـــيون چې يې په ټـــول عـمر شعار وو
په وطن د ده په شـــان هـم، ژړيدل بـــه دي
چې کاروان د علم و فـن نه ، وروســـته نه شو
قافلې د مــــــدنيت ته، رســـيدل بــــه دي
چې ســـيالۍ د ټول جــهانه ، پاتې نه شـــو
خپل بچـــيان په علم و فـــن سمبالول بـه دي

---

۱ـ د وطن د يو نامتو شاعر اديب ليکوال او نظامی شخصيت ، او د خپل وخت ډيرلوی مخور شخصيت ،د مرحوم جنرال سيد حسن خان(حسن) چې کله کله به يې شيون هم تخلص کاوه د هغه مرحوم د وطنه ځار وطنه په شعر کې يودوه بيتو ته اشاره ده ،چې د ډيرو زمانو راهيسې هغه شعر د وطن د مئينانو ورد ِ زبان ګرځيدلی او عنوان يې دی( وطنه ځار وطنه) ،د هغه مرحوم دا لاندی دوه شعرونو ته اشاره ده:

غمونه ستا می شو، په زړه باندی انبار وطنه
وطنه ځار وطنه
ستا په ګړاو کې می وجود شو ټول بيمار وطنه
وطنه ځار وطنه
په همدې شعر کې بل ځای وايي:

ستا احتياج ووضرور
کړم نا علاج و رنځور
د عندليب په دستور
راته فرياد شو منظور
زه سيد حسن ژړا شيون می شو شعار وطنه
وطنه ځار وطنه

آمريکا کلفرنيا ۲۵ آګست ۲۰۲۳


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ